# جهادیان

افغا نا ن ټول په ګرو د جها دیا ن
د بی وزلو نشته ابدأ پرسا ن
څوک نیوکی پر هغو کولی نشی
هغو بولی ځان د دین سترخادمان
سپین جا می غټ یی ږیره سپک سر
بی فرهنګ غټ جاسوس دپاکستان
د نهضت او ترقی په مخ لوی خنډ
دعرب اود پنجاب سترجا سو سا ن
نه یی شرم نه حیا سکه ورور دملا
دافغان دزوړاوځوان شرمیدلی قاتلان
دوله علمه بی بهره بیسواد اوبیکا ره
له یو سره داړه ما ر او لوټما ران
یوډډه په مسجد پروت ټول خیراتخور
بی فرهنګ وړی سترګی دا خواران
په راکټو اوبمونو اور کړ بل په وطن
دا چوپړ دپردو خدای ناترسه وهابیان
دوی ته مورخور اوورور ټول پردی
دوی له یو سره هیڅ نه لری وجدان
دوی یوه هم نه مومن نه مسلمان دی
مسلمان نه سوځوی هیڅ وخت قران
دوی بی پلار اوبی موراو بی نسب
نه یی رحم په زړه ټول قاتل دافغان
تر پرونه شونډی و چی ګرځید ل
اوس دوبی کی لری ښکلی آپارتمان
دروغ نه دی وطنداره ټول ریښتیا دی

که باور دی نه راځی وکړه پرسان
داچی هره ورځ افغان وژل کیږی
همدغو دی د وژلو عاملان
دوی پخپل خوښه نه ځی هیڅ شا ته
څو چی واړه سره ونکړو پیمان
افغانانو زر راویښ شی له خوبه
رانسکور کړی دا د خلکو د ښمنا ن
پریکړی غوږ د خاین او د جاسوس
که دایران وی یا دعرب اوانګریزان
خپل صفونه سره زر برابر کړی
هزاره ، تاجک ، پښتون ټول افغانا ن
ځانځا نی نه زر لاس په سر شی
له وطنه خپل جوړ کړی ګلستان
د یتم اوښکی پاکی کړی په مینه
خوشحالی کړی په نصیب د افغان
درواری شم زه (مل) ټول د تاسو
راشی زر کړی پوره می آرمان
******

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی ۲۰۱۴-۱۲-۱۸